مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولی ارین

۲۰۲۰/۰۸/۱۵

# کوچنی موټر مینځونکی

## (لنډه کیسه)

پرون هوا خورا توده وه، یو دوست مي له جرمني هیواد نه میلمه راغلی و. د سمندر تر غاړې مو بنه بنډار وکړ، تېر یادونه مو را تازه کړل، د بنډار یوه په زړه پورې، خو زورونکي کیسه یې راته وکړه چې تېر کال په ژمي کې کله چې کابل ته تللی و، ورسره مخ شوی و. ده ویل:

«کله چې سهار له خوبه پاڅیدم، هوا ډېره سړه وه. د موټر ماشین او اوبه یخ وهلي وې، موټر نه چالانیده له ډېر انتظار وروسته د تودو اوبو له لارې ماشین تود او په تیلو، تمبو مو موټر چالان کړ. پر لاره سړکونه یخ نیولی وو، په لس ګونه موټر بند پاتې وو، پر ما هم چې له متین لا لا سره مې وعده درلوده ډېر ناوخته شوی وه. په دغي سیمه کي د سړک تر غاړې د اوبو نل شتون لري او د ماشومانو ګڼه ګونه وي او له هرې خوا د مینځلو غږ را پورته کیږي.

همدلته مي د موټر مخې ته، یخ وهلی، تور مخ، خیرن لاسونه، شلیدلي جامې پیوندي بوټونه په پښو او زوړ ستل په لاس، یو کوچنی ودرید، په خورا عاجزانه غږ یې راته وویل:

کاکا جانه موټر دې ومینځم؟

ما ویل هو ځویه! ویې مینځه!

هلته د سړک تر غاړې د دیوال تر څنګ یې له کځوړې نه د صابون دبلی راواخست چې خورا لږ صابون په کې پاتې و، کله چې یې له نل نه اوبه د موټر د مینځلو له پاره راوړې، ستل یې سوری و، نیمې به پر لاره بیرته ترې تویدې، زښت ډېر وزوریدم، ومې ویل:

ځویه!

زه اوبه راوړم، ته یوازې ژر - ژر موټر ومینځه چې له یو چا سره مې وعده ده.

کوچنی خوارکی یو ډول خپل کار خلاص کړ، څنګ ته مي ودرید، ما ویل څو افغانۍ درکړم ځویه؟
مسکي شو. کاکا جانه څوک پنځوس راکوي، څوک هم سل او څوک مي لا یوه څپیړه هم ووهي چې موټر دې راته خراب کړ، ولاړ شي هیڅ پیسي هم رانه کړي.

هو کاکا جانه، څه وکړم مجبور یم.

مخکي تر دې چې پیسي ورکړم، په زړه کې مې څو پوښتني راوګرزیدي، متین لالا مي سم له یاده ووت. ما ویل ځویه نوم دې څه دی، څو کلن یې؟

نوم می عصمت دی لس کلن یم.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

څومره وخت کېږي چي دلته موټر مينځې؟

دوه کاله کېږي.

د ورځې څو افغانۍ کار کوي؟

له پنځوسو نه تر درې سوو پورې، چې يوازې وچه ډوډۍ او کله نا کله کچالو چای او بوره پرې رانيولی شم، غوښه خو مو کلونو کې خوړلې نه ده.

په کور کې مو نور څوک هم کار کوي؟

نه کاکا، پلار مې د خلقيانو په وخت کې جنرال و اوس معيوب دی، هيڅ کار نه شي کولاي د تقاعد کومې پيسې چې کله اخلو، يوازې مو د کور کرايه پوره کوي، مور مې هم څو کاله د مخه چې د کور تر خوا مو راکټ راولګيد په غوږو کڼه شوه، کار نه شي کولاي، دوه درې واره يې کوښښ وکړ چې د سرک تر غاړې د خورا مجبوريت له مخې خير او خيرات وغواړي، خو پلار مې پرې پوه شوو قسمونه يې ورکړل او حتی د خپل ځان وژنې ګواښ يې وکړ. پلار مې خورا وژړل او مور ته مې يې وويل:

ما د خوارئ او د غريبئ ژوند کړی، خو د بې همتئ او بې غيرتئ ژوند مې نه دی کړی، مرګ به قبلوو، خو د خيرات او نورو ته د لاس غزولو په پيسو به ژوند نه کوو. مور مې د دې له پاره چې پلار مې ځان وژنه ونه کړي، پر کور کيناسته نو ځکه زه مجبور شوم چې مکتب پرېږدم او دغه کار ته مخه کړم.

مور مې کله ـ کله کيسه کوي چې پلار مې جنرال و، ډېر عسکران يې تر لاس لاندې وو، ډېر زيات قدرت او شوکت يې درلود، مګر اوس هيڅ نه لري.

کله چې مو کور ته د ګاونډيو زنانه راځي، زه يې اورم چې مور ته مې تعني ورکوي چې ستا خاوند هم جنرال و، مګر تاسو اوس له ولږې مرئ، دا دي، د دې وخت جنرالان په رښتيا هم جنرالان دي، چې نه يوازې يو کور، بلکې کورونه لري، پيسې نه، بلکې ډالرونه لري، خوارو بېچاره ګانوو سپېره خوله اوس ناست ياستئ له دوي نه يې زده کړئ.

هو، رښتيا د کوچنې د خبرو په اورېدو مې خورا خوا بده شوه، سوچ مې وکړ چې که چېرې دا ماشوم رښتيا وايي، خو د داسې يو شخص ليدل به زما د ژوند له نادرو خاطراتو نه وي.

ماشوم ته مې دوه سوه افغانۍ د موټر د مينځلو له پاره ورکړې، خورا خوښ شو.

ما ويل کولای شم چې پلار دې وګورم؟

ويل يې کاکا زموږ کور د ليدو نه دی، که يې وګورې خوا به دې نوره هم بده شي.

هو، کوچنې مې مجبور کړ چې خپل کور ته مې بوزي، کله چې ولاړم له نږدې نه مې د دوي د ژوند حالت وليد، په رښتيا هم خورا ډېر وزوريدم، هلته پوه شوم چې جنرال يانې څه، د کوچنې نه مې د ده د پلار او مور تر مخه يو ځل بيا وپوښتل چې دی د ورځې څو افغانۍ د موټرو په مينځلو کې تر لاسه کوي؟ ويل يې چې پنځوس، سل، کله دوه سوه ډېر لږ کله ـ کله درې سوه افغانۍ. ما ويل سر له ننه زه درته د مياشتې لس زره افغانۍ تنخوا درکوم، خو شرط مې دا دی چې ښوونځی به بيرته پيل کوي، او د ښوونځي له مدير سره هم زه دا ستونزه هواروم. پلار او مور يې زما د خورا ډېر تاکيد او ټينګار له امله غوښتنه ومنله، خو په رښتيا هم ما دلته يو حقيقت وموند چې په دې هيواد کې د تيرو نظامونو ډېر نوم ورکې جنرالان، وزيران او د لوړو مقامونو شخصيتونه شتون لري چې د هيواد د خدمت په لار کې يې د يوه دينار رشوت او خيانت حتی خيال او فکر هم نه وو کړی، همدا اوس هم نه کورونه لري او نه قصرونه، تاريخ يې ويني، او نه يې هيروي.»

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ